إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ». "کله چې خلک یو ظالم وویني او د ظلم څخه یې لاسنیوی ونه کړي، لرې نده چې الله به په دوی ټولو خپل عذاب راولي

له ابوبکر صدیق رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې خلکو تاسو دا آیت تلاوت کوئ : {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لاَ يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ}،یعنې :اې مومنانو! د خپلو ځانونو غم کوئ، د بل چا بې لاریتوب درته کوم تاوان نه رسوي کله چې تاسو خپله پر سمه لار یاست} او یقینا چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې: «إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ». "کله چې خلک یو ظالم وویني او د ظلم څخه یې لاسنیوی ونه کړي، لرې نده چې الله به په دوی ټولو خپل عذاب راولي".

[صحیح دی] [ابو داود، الترمذي او النسائي په الکبری کې او ابن ماجه او احمد روایت کړی دی]

ابوبکر صدیق رضي الله عنه فرمایي چې خلک دا آیت تلاوتوي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لاَ يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ} [المائدة: 105]. {اې مومنانو! د خپلو ځانونو غم کوئ، د بل چا بې لاریتوب تاسو ته کوم تاوان نه رسوي چې خپله پر سمه لار یاست} [57] او لدې داسې پوهه اخلي چې انسان باید یوازې د خپل ځان په اصلاح کې کوښښ وکړي، او د بل چا بې لارېتوب ورته ضرر نه رسوي کله چې بې لاري شي، او دا چې په امر بالمعروف او نهی عن المنکر مکلف نه دي! نو پوه یې کړل چې داسې نده، هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې: خلک چې کله ظالم وګوري او له ظلم څخه یې منع نه کړي، پداسې حال کې چې د دې کار وسه لري، نو نږدې ده چې الله به په ټولو خپل عذاب راولي، څوک چې منکر کارونه کوي او څوک چې پرې چپ پاتې کیږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3470